# والدينو لپاره معلومات د ليرى کولو/ايستلو وړانديز فورم
# د درملو خونديتوب/د نشه يي توکو څخه په ناوړه توګه د ګټه اخيستنې مخنيوى لارښووني

ګرانو والدينو / سرپرستانو،

لپاره د دی چې زده کوونکي د خپل ژوند په اوږدو کې صحي پريکړې کولو لپاره په غوره توګه چمتو شي، د ښوونځی سلاکاران به د پرنس ويليم کاونټي په ټولو ابتدايۀ ښوونځيو کې هر ټولګي ته د درملو د خونديتوب / د نشه يې توکو څخه په ناوړه توګه د ګټه اخيستنې مخنيوى په اړه لارښوونی تر سره کوي. دا درسونه د عمر سره په مطابق دی او د زده کوونکو عمر زياتيدو سره ژورى کيږي. د دی درسونو موخې دا دې چې زده کوونکو ته پوهاوى ورکړل شي، زده کوونکو ته اجازه ورکړل شي چې خپل شخصي ارزښتونه او باورونه رامينځته کړي، او ځايى روغتيايى ستونزى حوارى کړي. دغه موخې د ويرجينيا د ښووني او روزني بورډ لخوا د څيړنی پر اساس روغتيايى موخي او د امريکايى ښوونځي د سلاکارانو د اتحادی ذهنيت او چلند تعقيبوي.

د درملو د خونديتوب/د نشه يي توکو څخه په ناوړه توګه د ګټه اخيستنې مخنيوى درسونو کې به د لاندی ذکر شويو موخو په اړه لارښوونه تر سره کيږي:

| د ټولګي کچه | معيارونه / موخې | د درس عنوان او لنډيز |
| --- | --- | --- |
| وړکتون | د ويرجينيا روغتيا SOLs K.1-3<br>*اړوند معيارونه:* ASCA ذهنيت او چلند M1, B-LS.1, B-SMS.9 | **خوندی/ناخوندی انتخاب**<br>• زده کوونکی د درملو د تعريف په اړه زده کوي.<br>• زده کوونکی د خوندی او نا خوندی انتخاب په اړه زده کوی او په مختلفو سناريوګانو کې يی د پيژندلو په اړه تمرين تر سره کوی.<br>• زده کوونکی د داسی تکلاری په اړه زده کوی، که چيرته هغوي د يو نامعلوم توکی سره مخ شي: *لاس مه ور وړئ! خوند يی مه ګورى! يو باورى بالغ کس ته ووايٰاست!* |
| **1** ټولګي | د ويرجينيا روغتيا SOLs 1.1-3<br>*اړوند معيارونه:* ASCA ذهنيت او چلند M1, B-LS.1, B-SMS.9 | **د درملو خونديتوب**<br>• زده کوونکی د صحی انتخابونو او د درملو تعريف په اړه زده کوي.<br>• زده کوونکی به په دی اړه بحث کوی چې ولې يو باورى بالغ کس ته اړتيا وي کله چې درمل خوړل کيږي.<br>• زده کوونکی په په کور او ښوونځی کې باورى بالغ کسان پيژندل زده کوي (رسموي).<br>• زده کوونکی په مختلف سناريوګانو کې د خوندی انتخاب کولو په اړه زده کوی. |
| **2** ټولګي | د ويرجينيا روغتيا SOLs 2.1-3<br>*اړوند معيارونه:* ASCA ذهنيت او چلند M1, B-LS.1, B-SMS.9 | **صحی او غير صحی انتخابونه: د موادو/ نشه يی توکو په اړه پوهاوى**<br>• زده کوونکی د درملو د تعريف په اړه زده کوی.<br>• زده کوونکی د درملو د زيان رسونکی اغيزو په اړه بحث کوی.<br>• زده کوونکی به د يو فعاليت په ترس کې د صحی او غير صحی انتخاب کونی په اړه تمرين تر سره کوی.<br>• زده کوونکی به د *لاس مه ور وړئ! خوند يی مه ګورى!* يو باورى بالغ کس ته ووايٰاست! پروتوکول په اړه خبرى کوي.<br>• زده کوونکی به داسی سناريوګانو ته مناسب غبرګون ښکاره کولو په اړه بحث کوی چې پکی احتمالی خطرناک حالتونه شتون لري. |
| **3** ټولګي | د ويرجينيا روغتيا SOLs 3.1-3<br>*اړوند معيارونه:* ASCA ذهنيت او چلند M1, B-LS.1, B-SMS.9 | **بس کړئ، فکر وکړئ، انتخاب کړئ: پريکړه کونه او د نشه يی توکو په اړه پوهاوى**<br>• زده کوونکې به د مثبتې پريکړى کولو د څرنګوالی په اړه بحث کوي.<br>• زده کوونکې به د *بس کړئ، فکر وکړئ، غوره کړئ*، پريکړې کولو کارى چوکاټ په اړه زده کوی.<br>• زده کوونکې په سناريوګانو کې د درملو او نشه يی توکو په اړه د پريکړې کولو لپاره د پريکړې کولو کارى چوکاټ کارونی تمرين تر سره کوي. |
| **4** ټولګي | د ويرجينيا روغتيا SOLs 4.1-3<br>*اړوند معيارونه:* ASCA ذهنيت او چلند M1, B-LS.1, B-SMS.9 | **1 درس: د ملګرو فشار او د نشه يی توکو په اړه پوهاوى**<br>• زده کوونکې به د *بس کړئ، فکر وکړئ، انتخاب کړئ* پريکړې کولو کارى چوکاټ په اړه بحث کوی.<br>• زده کوونکې به د ملګرى فشار تعريف په اړه زده کړي.<br>• زده کوونکې به په دی اړه بحث کوي چی څرنګ بايد د ملګرى فشار اداره کړي او ورته غبرګون ښکاره کړي.<br>• زده کوونکې به د کوچنيو ډلو له لارى د ملګرى د فشار مخه نيولو مهارتونو په اړه تمرين تر سره کړي.<br>• زده کوونکې به دا زده کوى چې مونږ کولی شو په يو بل مثبته اغيزه ولرو او صحی انتخاب تر سره کونه وحڅوو. |
| **5** ټولګي | د ويرجينيا روغتيا SOLs 5.1-3<br>*اړوند معيارونه:* ASCA ذهنيت او چلند M1, B-LS.1, B-SMS.9 | **نشه يی توکی څرنګ ماغزه اغيزمن کوى**<br>• زده کوونکې به دا زده کوى چې څرنګ مختلف نشه يی توکی ماغزه اغيزمن کوى.<br>• زده کوونکې به د زيان رسونکی توکو څخه د څرنګ انکار کولو په اړه بحث کوى.<br>• زده کوونکې به د انکار کولو نقش لوبوي يا د انکار کولو مهارتونو / او دا چې زيان رسونکی توکی څرنګ ماغزه اغيزمن کوي، په اړه د پوسټرونو جوړولو لپاره په ګډه کار کوى. |

په دی اړه پوهیدل چې په ټولګی کې به څه ښودل کیږی، په اړه یی په کور کې خبری اتری پیل کول غوره لار ده. د درملو د خوندیتوب او د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوي په اړه خبرې اترې پیل کول پداسې حال کې چې ستونزمن کار دی، خو بیا هم باید وخت له سره پیل شي او ټول عمر دوام ومومي. والدین/سرپرستان ممکن دا ګټور ومومی چې په خبرو کی د رینښتیني نړی بیلګی شاملول د ماشومانو سره په خبرو اترو کی مرسته وکړي.

د درملو د خوندیتوب/د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی درسونه به د اکتوبر په میاشت کې د ښوونځی سلاکارانو لخوا د ټولګی د سلا مشورې درسونو پر مهال وړاندی کیږي.

که تاسو د درملو د خوندیتوب/ د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی درسونو په اړه پوښتنه لرئ. مهربانی وکړئ د خپل ښوونځی سلاکار، ______________ ، سره په ______________________________ بریښنالیک اړیکه ټینګه کړئ.

که تاسو دا پریکړه کوئ چې ستاسو ماشوم باید سږکال د درملو د خوندیتوب / د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی په لاربښوونه کی شامل نشی، په دې فورمه کې خپله خوښه څرګنده کړئ او د خپل ماشوم ښوونکی ته یی بیرته وګرځوئ. که تاسو غواړئ د دې فورمې فزیکی کاپی تر لاسه کړئ، تاسو کولی شئ د خپل ښوونځی سلاکار سره اړیکه ونیسئ. **دا فورمه بیرته مه راګرځوئ که تاسو غواړئ چې ستاسو ماشوم په لاربښوونه کې ګډون وکړي.** هغه زده کوونکي چې ایستل کیږي، هغوي ته به د درملو د خوندیتوب/د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی لاربښوونو پر مهال غیر جزایی لاربښوونی وړاندی کیږي. پرته له دې که تاسو یی بل ډول په ډاګه کړئ، ستاسو ماشوم به د درملو د خوندیتوب / د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی په لاربښوونه کې شامليږي. د وتلو/ایستلو فورمې باید د ______________ پوری بیرته وګرځول شي، ترڅو د لاربښوونی د تر سره کیدو څخه دمخه یی د ښوونځی د سلاکارانو لخوا د ترلاسه کیدو ډاډ رامنځته شي.

---

مهرباني وکړئ لاندې ځای په نښه کړئ که تاسو غواړئ خپل ماشوم د درملو د خوندیتوب/د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی لاربښوونې څخه لیرې کړئ. **دا فورمه بیرته مه راګرځوئ که تاسو غواړئ چې ستاسو ماشوم په لاربښوونه کې ګډون وکړي.**

مهربانی وکړئ دا فورمه د ______________ پوری بیرته وګرځوئ، ترڅو د لاربښوونی د تر سره کیدو څخه دمخه یی د ښوونځی د سلاکارانو لخوا د ترلاسه کیدو ډاډ رامنځته شي.

______ زه غواړم خپل ماشوم د درملو د خوندیتوب/د نشه یی توکو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی لاربښوونې څخه لیرې کړم یا وباسم.

د زده کوونکی نوم او تخلص: ________________________________________________

د ټولګی ښوونکی: ________________________________________________

د والدینو/سرپرست لاس لیک: ______________________ نیټه: ______________________